# جریده میزان

د سترې محکمې کاري څرګندویه خپرونه

د تأسیس کال ۱۴۴۳ هـ ق ۱۴۰۰ هـ ش


**د هستی‌نظام پر عدل ولاړ دی**

عادل خدای (جل جلاله) په سورة الرحمن کې فرمایي:

ژباړه: الله (جل جلاله) آسمان پورته کړی او تله یې ایښې ده، ترڅو تاسو په تله کې تېری ونه کړئ.

زیاتره اسلاف له دې نه دا استنباط کوي ، که په کائناتو کې د حق او عدل ساتنه ملحوظه نه وي ، نو د نړۍ ، نړۍ والو او ټولو کائناتو دا ټول انتظام ، ساتنه او انضباط سره ګډوډ کیده.

تفسیر کابلی ، ج ۲ ، ص ۱۳۰۳


چهار شنبه ۱۲ سلواغه ۱۴۰۱ هـ ش | ۱۰ رجب المرجب ۱۴۴۴ هـ ق | ۱ فبروری ۲۰۲۳ م | مسلسله شمېره (۲۶)


## د سترې محکمې د عالي شورا غونډه ترسره شوه



د چهارشنبه په ورځ (۱۴۴۴/۷/۳ هـ ق) نېټه د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د رئیس او قاضي القضات محترم شیخ عبدالحکیم (حقاني) صاحب په مشرۍ د سترې محکمې د عالي شورا ۱۲مه غونډه ترسره شوه.

د سترې محکمې د عالي شورا په دې ناسته کې چې د سترې محکمې د رئیس او قاضي القضات محترم شیخ عبدالحکیم (حقاني) صاحب په مشرۍ جوړه شوې وه د عالي شورا له غړو څخه محترم شیخ محمدقاسم (راسخ) صاحب، محترم شیخ عبدالمالک (حقاني) صاحب، محترم شیخ خیرجان (خیرخواه) صاحب، محترم شیخ محمد شریف (حقاني) صاحب او محترم مفتي عبدالرشید (سعید) صاحب ګډون درلود.

د عالي شورا دغه غونډه د قرانکریم د څو مبارکو ایاتونو په تلاوت پیل شوه؛ وروسته د غونډې په اجنډا کې د شاملو اووه (۷) مهمو موضوعاتو په اړه تر تفصیلي خبرو وروسته د یادو موضوعاتو اړوند فیصلې صادرې شوې.

یاده ناسته د دعاء په ویلو سره پای ته ورسېده.

## د سترې محکمې د قضائي تفتیش عمومي ریاست مسلکي غړو د لوګر ولایت له محاکمو او مرکزي زندان څخه لیدنه وکړه

سترې محکمې د محترم مقام په هدایت او د قضائي تفتیش د عمومي رئیس په امر یوه مؤظف پلاوي د ۱۴۴۴هجري قمري کال د جمادي الثاني میاشتې په ۷مه نېټه د لوګر ولایت د محاکمو د فعالیتونو د څېړلو په موخه یاد ولایت ته سفر وکړ.

یاد پلاوي په پیل کې د لوګر ولایت د مرافعه محکمې له رئیس سره ولیدل؛ وروسته یې د خپل کاري پلان له مخې د دغه ولایت د ښپرو ولسوالیو له ابتدائیه محاکمو، د ښاري محکمې له ریاست او اړوند دېوانونو او د مرافعه محکمې ریاست له اړوند دېوانونو څخه جلا، جلا لیدنه وکړه.

د تفتیش د دغه پلاوي د پلټنیز بهیر په ترڅ کې د یادو محاکمو د قضائي او مالي چارو هر اړخیزه پلټنه ترسره شوه او د محاکمو د قضائي او اداري کارکوونکو د چلند او مسلکي اړخونو پوره معلومات حاصل شول او د چارو د لا سمون په برخه کې د یادو محاکمو مسؤولینو ته لازمې لارښوونې وشوې.

پلاوي د محاکمو اړوند شته ستونزې، کاري خنډونه او لوژستیکي نیمګړتیاوې له ځان سره یاداښت کړې او په لومړي قدم کې یې د ښاري محکمې په دېوانونو کې د شته مشکلاتو د حل په موخه د ښاري محکمې له رئیس سره وکتل، وروسته یې د ستونزو د هواري، د خنډونو د له منځه وړلو او د نیمګړتیاوو د اکمال په موخه د لوګر ولایت د مرافعه محکمې له رئیس سره ناسته ترسره کړه او ټول مشکلات یې په جلا، جلا توګه ورسره شریک کړل.

دغه راز یاد پلاوي د بندیانو د احوال د څېړلو په موخه د لوګر ولایت له مرکزي زندان څخه لیدنه وکړه او د یاد محبس اړوند نارینه او ښځینه بندیانو بشپړ شهرت، کیفیت او وړاندیزونه یې له ځان سره نوټ او بیا یې له اړوند محاکمو سره شریک کړل.

په دې سربېره مؤظف پلاوي د یاد ولایت د محاکمو له برحاله قضاتو څخه آزموینه واخیسته.

د پلټنې دغه پلاوي د خپل سفر په پای کې د لوګر ولایت د مقام د دفتر له رئیس، د استخباراتو له رئیس، امنیه قوماندان او د عدلیې له رئیس سره ولیدل او د محاکمو د فعالیتونو د لاښه پرمختګ او د ځینو مربوطه ستونزو د حل په باره کې یې د هغوی نظرونه واورېدل.

د قضائي تفتیش د پلټنې پلاوي د ۱۴۴۴ هجري قمري کال د جمادي الثاني میاشتې په ۱۸مه نېټه خپل سفر په داسې حال کې چې له لاسته راوړنو ډک و پای ته ورساوه او ټول پلټنیز اجراآت یې د بشپړ راپور په بڼه چمتو او د سترې محکمې د محترم مقام درانه حضور ته وړاندې کړل.

### د اسلامي قضاء مأخذونه

### درېیمه برخه:

هغه احکام چې موږ ته د پیغمبر (صلی الله علیه وسلم) په واسطه را رسېدلي دي، دا به یا د الله تعالی کلام وي چې موږ ته په تواتر سره د قرآنکریم په شکل رارسېدلي او یا به د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) وینا، عمل او یا هم تقریر وي (تقریر هغه عمل ته ویل کېږي چې د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) په ژوند کې یو عمل ترسره شوی وي او رسول الله (صلی الله علیه وسلم) پرې خبر شوی هم وي؛ خو بیا یې هم منعه نه وي کړې) چې دا ټول زموږ سره د حدیث تر عنوان لاندې ساتل شوي دي او دا خپله د الهي وحي یوه برخه ده، خو دومره توپیر شته چې د قرآن وحي متلو او د حدیث وحي غیرمتلو دي، دا دواړه په دین کې حجت دي او همدارنګه اجماع او قیاس هم په قرآن او حدیث سره ثابت دي چې دا موضوع په علم الاصول کې څېړل شوې ده.

اخذلیک: تتمة النظام، ۱۸ صفحه، تألیف: قاضي القضات شیخ عبدالحکیم حقاني صاحب/ ژباړن:مولوي عبدالرحیم راشد

# گزارش‌های اجراآت قضائی محاکم برخی از ولایات کشور

## طی ربع سوم سال ۱۴۰۱ هـ ش در دواوین محکمهٔ ابتدائیه زون چهارم شهر کابل به ۳٦۲ قضایا رسیده‌گی شده‌است

خلاصهٔ گزارش اجراآت ربع سوم سال ۱۴۰۱ هـ ش بخش‌های جزائی و حقوقی ریاست محکمهٔ ابتدائیه زون چهارم شهرکابل قرارذیل است .

**۱. دیوان جزاء این محکمه:**

در ربع سوم سال ۱۴۰۱ هـ ق حدود ۲۰٤ دوسیه به این دیوان مواصلت ورزیده‌است؛ در حالی که چندین دوسیه از ربع دوم نیز باقی مانده بود.

از آن جمله ۷٤ دوسیه فیصله، ٤ دوسیه قرار قضائی و ۱۰ دوسیه طی مکتوب مسترد گردیده و متباقی آن به اساس نوبت تحت بررسی قرار دارد.

**۲. دیوان امنیت عامهٔ این محکمه:**

در ربع سوم سال ۱۴۰۱ هـ ق حدود ۱۹۹ دوسیه به این دیوان وارد گردیده بود؛ در حالی‌که چندین دوسیه از ربع دوم نیز باقی مانده بود.

از آن جمله به تعداد ۲۰ دوسیه فیصله، ٦ دوسیه قرارقضائی و ۲۵ دوسیه طی مکتوب مسترد گردید و متباقی آن تحت بررسی قراردارد.

**۳. دیوان مدنی این محکمه:**

در ربع سوم سال ۱۴۰۱ هـ ق به تعداد ۳۷٤ دوسیه وارد این دیوان شده‌است؛ در حالی‌که چندین دوسیه از ربع دوم نیز باقی مانده بود.

از آن جمله به تعداد ۱۲ دوسیه فیصله، ۱۵۳ دوسیه به قرار قضائی و ۳۵ دوسیه طی مکتوب مسترد گردیده‌است و متباقی آن تحت بررسی قراردارد.

**٤. دیوان ترافیک این محکمه:**

در ربع سوم سال ۱۴۰۱ هـ ق به تعداد ۱٤ دوسیه به این دیوان مواصلت ورزیده‌است؛ در حالی که چندین دوسیه از ربع دوم نیز باقی مانده بود.

از آن جمله به تعداد ۲۱ دوسیه فیصله، یک دوسیه به قرار قضائی و یک دوسیه طی مکتوب مسترد گردیده‌است و متباقی دوسیه آن عنقریب فیصله خواهد شد.

## محاکم ولایت دایکندی طی دو هفته علاوه بر حل و فصل ۵۵ دوسیه، ٦۰ قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجراء کرده‌است

خلاصه اجراآت دواوین محکمهٔ مرافعه، آمریت ثبت اسناد وثایق و مخزن، محکمه ابتدائیه شهری و محاکم ابتدائیه ولسوالی‌های نه‌گانهٔ ولایت دایکندی از تاریخ ۱۴۴۴/۶/۱٤ هـ ق الی ۱۴۴۴/۶/۲٦ هـ ق قرار ذیل است:

**در بخش حقوقی:**

طی دو هفته به تعداد(۱۰) دوسیه حقوقی وارد محاکم گردیده‌است؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران محاکم قرار داشت.

از آن جمله (۱۲) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۷) دوسیه فیصله گردیده، ۴ جلد دوسیه ذریعهٔ مکتوب مسترد گردیده و متباقی تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

طی دو هفته به تعداد (۸) دوسیه جزائی وارد محاکم گردیده‌است؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران محاکم قرار داشت.

از آن جمله (۱٤) دوسیه فیصله گردیده، و (۸) جلد دوسیه ذریعه مکتوب مسترد گردیده است و متباقی تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته به تعداد (٦۰) قطعه وثایق مختلف النوع بعد از بررسی و طی مراحل اصولی اجراء گردیده‌است.

## طی دو هفته در محاکم ولایت پروان علاوه بر حل و فصل (۱٦۲) دوسیه به تعداد (۱۷۵) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجراء شده‌است

توحید گزارش را پور دوسیه‌جات وثایق ریاست محکمهٔ مرافعه‌ی ولایت پروان از تاریخ ۱٤٤٤/٦/۱٤هـ ق الی ۱٤٤٤/٦/۲٦ هـ ق شامل اجراآت دواوین مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیه شهری و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها به شرح ذیل تحریر است:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۸۳۸) دوسیه وارد محاکم گردیده‌است؛ در حالی‌که قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله ( ١٤) دوسیه مکتوبی، (٦۲) دوسیه قرار قضائی، (١٦) دوسیه فیصله اجراآت گردیده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۲۸٤) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده‌است؛ در حالی‌که قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۵) دوسیه مکتوبی، (۲٤) دوسیه قرار قضائی، (٤١) دوسیه فیصلهٔ اجراآت گردیده و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

همچنان در این مدت به تعداد (۱۷۵) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجراء گردیده و طبق فرمان شماره(۳٤۲ج۱) مؤرخ ۱۴۴۳/۷/۲٦عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله قیمت آن اخذ نگردید.

## محاکم ولایت فراه طی دو هفته علاوه بر حل وفصل (۱٦۳) دوسیه، (۱۱۷) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجراء کرده‌است

توحید گزارش راپور دوسیه‌جات وثایق ریاست محکمهٔ مرافعه ولایت فراه از تاریخ ۱۴۴۴ /۶/۱۴ هـ ق الی ۱۴۴۴/۶/۲۶هـ ق شامل اجراآت دواوین مرافعه، وثایق، محکمه‌ی ابتدائیه شهری و محاکم ابتدائیه ولسوالی‌ها به شرح ذیل تحریر است:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (٦۰) دوسیه حقوقی وارد محاکم گردیده است؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه دیگر تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۲) دوسیه مکتوبی (۱۵) دوسیه قرار قضائی و(۴۳)دوسیه فیصله اجراآت گردیده است ومتباقی دوسیه تحت کار میباشد

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۰۳ ) دوسیه جزائی وارد محاکم گردیده‌است؛ در حالی‌که قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۹) دوسیه مکتوبی، (۱۶) دوسیه توسط قرار قضائی و (۷۸) دوسیه فیصلهٔ اجراآت گردیده‌است، متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

همچنان در مدت مذکور به تعداد (۱۱۷) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجراء گردیده است.

## طی ربع سوم سال ۱٤۰۱ هـ ش در دواوین محکمهٔ ابتدائیهٔ زون دوم شهر کابل ۳٦۰ دوسیه حل و فصل شده‌است

گزارش توحیدی ربع سوم سال ۱٤۰۱ هـ ش دواوین جزاء، امنیت عامه، مدنی و ترافیک ریاست محکمه ابتدائیه زون دوم شهر کابل به شرح ذیل مواصلت ورزیده است:

**۱. دیوان جزاء این محکمه:**

در جریان ربع سوم سال جاری۱٦۰ دوسیه به این دیوان مواصلت ورزیده‌است؛ در حالی‌که قبلاً نیز چند دوسیه موجود بود.

از آن جمله به تعداد ۱۰٤ قضیه فیصله شده، ٤۷ قضیه توسط قرار قضائی و ۱٦ قضیه آن مکتوبی مسترد گردیده‌است، متباقی آن تحت دوران قرار دارد.

**۲. دیوان امنیت عامهٔ این محکمه:**

در جریان ربع سوم ۱۵۱ دوسیه به این دیوان مواصلت ورزیده‌است؛ در حالی‌که قبلاً نیز چند دوسیه موجود بود.

از آن جمله به تعداد ۲۹ قضیه فیصله ۷ قضیه قرارقضائی و۱٤ قضیه آن مکتوبی مسترد گردیده است که متباقی آن تحت دوران قرارداشته

**۳. دیوان مدنی این محکمه:**

در جریان ربع سوم سال جاری، ۲۸۹ دوسیه به این دیوان مواصلت ورزیده‌است؛ در حالی‌که قبلاً نیز چند دوسیه موجود بود.

از آن جمله به تعداد ۸۱ قضیه فیصله شده، ٤۷ قضیه قرار قضائی و ۳ قضیه آن مکتوبی مسترد گردیده‌است، متباقی دوسیه تحت دوران قرار دارد.

**٤.دیوان مبارزه علیه جرایم ترافیکی این محکمه:**

در جریان ربع سوم سال جاری، ١٦ قضیه وارد این دیوان شده‌است؛ در حالی‌که قبلاً نیز چند دوسیه موجود بود.

از آن جمله به تعداد ۱۲ قضیه فیصله گردیده‌است و متباقی آن تحت دوران قرار دارد.

## محاکم ولایت بلخ طی یک هفته علاوه بر حل و فصل ۲۰۵ دوسیه، (۲۸۹) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجراء کرده‌است

توحید گزارش راپور دوسیه‌جات وثایق ریاست محکمهٔ مرافعهٔ ولایت بلخ از تاریخ ۱٤٤٤/٦/۷ هـ ق الی ۱٤٤٤/٦/۱۲هـ ق شامل اجراآت دواوین مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیه شهری، محکمهٔ نظامی زون شمال و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها به شرح ذیل تحریر است:

**در بخش حقوقی:**

در جریان یک هفته به تعداد(۹۶)دوسیه وارد محاکم گردیده؛ در حالی‌که قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرارداشت.

از آن جمله (۳۶) دوسیه مکتوبی، (۵۶) دوسیه قرار قضائی و (۲۵) دوسیه فیصلهٔ اجراآت گردیده‌است و متباقی دوسیه تحت کارمی‌باشد .

**در بخش جزائی:**

در جریان یک هفته به تعداد(۴۰) دوسیه وارد محاکم گردیده؛ در حالی‌که قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرارداشت.

از آن جمله (۱۴) دوسیه مکتوبی، (۲۸)دوسیه قرار قضائی و (۲۵)دوسیه فیصلهٔ اجراآت گردیده‌است و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش تجارتی:**

در جریان یک هفته به تعداد(۴۳) دوسیه وارد دواوین مربوطه شده؛ در حالی‌که قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۳) دوسیه مکتوبی، (۱۴)دوسیه قرار قضائی و (۴)دوسیه فیصلهٔ اجراآت گردیده‌است.

همچنان در مدت مذکور به تعداد (۲۸۹) قطعه وثایق مختلف النوع اجراء گردیده و طبق فرمان شماره(۳۴۲ج۱) مؤرخ ۱۴۴۳/۷/۲۶عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله قیمت آن اخذ نگردیده‌است.

## محاکم ولایت نیمروز طی سه ماه، علاوه بر حل و فصل( ۳۳۷) قضیه، (۳۹۴ ) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجراء کرده‌است

توحید گزارش اجراآت حقوقی، جزائی و وثایق محاکم ابتدائیه‌ی ولسوالی‌ها، شهری و ریاست عمومی محکمهٔ مرافعهٔ ولایت نیمروز از تاریخ ۱٤٤٤/۰۲/۲۸ هـ ق الی ۱٤٤٤/۰۵/۲۷ هـ ق

**۱. محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها:**

از تاریخ ۱٤٤٤/۰۲/۲۸ هـ ق الی ۱٤٤٤/۰۵/۲۷ هـ ق؛ در عموم به محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌های ولایت نیمروز به تعداد ۳۷ قضیهٔ حقوقی و جزائی مواصلت ورزیده وتماماً قضایا بررسی شده است؛ محاکم ولسوالی‌ها به تعداد ۹ وثیقه از وثایق مختلف النوع نیز ترتیب و صادر نموده اند.

**۲. ریاست محکمهٔ ابتدائیه‌ی شهری:**

از تاریخ ۱٤٤٤/۰۲/۲۸ هـ ق الی ۱٤٤٤/۰۵/۲۷ هـ ق؛

پاتې برخه ۳

### محاکم ولایت نیمروز طی سه ماه، علاوه...

مجموعاً ۳۳۵ قضیهٔ جزائی و حقوقی وارد این ریاست گردیده‌است؛ از آن جمله ۲۴۳ قضیه بررسی شده و متباقی تحت کار است.

**۳. ریاست عمومی محکمهٔ استیناف:**

از تاریخ ۱۴۴۴/۰۲/۲۸ هـ ق الی ۱۴۴۴/۰۵/۲۷ هـ ق به ریاست عمومی محکمهٔ استیناف ٦٧ قضیه جزائی و حقوقی وارد شده‌است؛ از آن جمله به ۵۷ قضیه رسیده‌گی گردیده و متباقی تحت کار است. قابل ذکر است که به تعداد ۳۸۵ قطعه وثایق مختلف النوع نیز در ریاست استیناف در تاریخ فوق الذکر ترتیب و صادر گردیده است.

## محاکم ولایت فاریاب طی دو هفته علاوه بر حل و فصل (۱۹۸) دوسیه، به تعداد( ۳۰٦ ) وثایق مختلف النوع نیز اجراء کرده‌است

گزارش اجراآت دواوین مرافعه، وثایق ، محکمهٔ ابتدائیه شهری و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌های ولایت فاریاب از تاریخ ۱۴۴٤/٦/۱ هـ ق الی ۱۴۴٤/٦/۱٥ هجری قمری به شرح ذیل است:

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد(۱۱۱) دوسیه وارد محاکم ولایت فاریاب گردیده‌است؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۲) دوسیه مکتوبی، (۳۲) دوسیه قرار قضائی، (٤۳) دوسیه فیصله شده‌است، و متباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**در بخش حقوقی:**

در جریان دوهفته به تعداد (۱٤۸) دوسیه وارد محاکم ولایت فاریاب گردیده‌است؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (۳۱) دوسیه مکتوبی، ( ۱۸) دوسیه قرار قضائی، (۷۲) دوسیه فیصله شده‌است ومتباقی دوسیه تحت کار می‌باشد.

**بخش وثایق:**

در مدت مذکور به تعداد ( ۳۰٦) وثایق مختلف النوع اجراء شده‌است و مطابق فرمان شماره (۳٤۲ج ۱) مؤرخ ۱٤٤۳/۷/۲٦ عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله قیمت آن اخذ نگردیده است.

## له ملي ټلويزيون سره د سترې محکمې د فعالیتونو او لاسته راوړنو په اړه د ستري محکمې د مرستيال وياند مولوي عنايت الله صاحب مرکه

لومړۍ پوښتنه: يو مدعي يا عارض د خپلې قضيې د پيل لپاره لومړی کومې مرجع ته مراجعه کوي او د همدې قضيې جريان څه ډول تعقيب کولای شي؟

ځواب: اول عارض يا مدعي خپله يا د يو بل مسؤول آدرس له طريقه ابتدائيه محکمې ته په اصولو برابره عريضه وړاندې کوي، دغه عريضه له محرر سره ثبتېږي او د قاضي صاحب تر تثبيت وروسته که مدعي او مدعي عليه د دغه محکمې په مربوطه ساحه کې وي محکمې ته راغواړي، او که د دغه محکمې مربوط نه وي، عارض که مدعي و قاضي صاحب ورڅخه صورت صحيح دعوا غواړي، بيا مدعي عليه راحاضروي، که په حق د مدعي مقر و، قاضي فيصله بنا پر اقرار کوي، که منکر و، قاضي د مدعي څخه د خپلې دعوې د اثبات په خاطر عادلان شاهدان غواړي، که يې مقبول شاهدان نه لرل، بيا قاضي مدعي عليه ته په طلب د مدعي قسم ورکوي، يا د قطع قسم يا د علم يا د سبب يا د حاصل؛ که يې قسم ونکړ ملامت او د ملزم فيصله بنا پر نکول ليکي او که يې قسم واخستی پر مدعي فيصله د ترک خصومت ليکي، که جانبين د ابتدائيې پر فيصله قانع وو، فيصله قطعي او تطبيقيږي او که يو جانب مرافعه طلبه شي، بيا فيصله مرافعې ته د مکتوب په توسط لېږدول کيږي، که تر غور وروسته په مرافعه کې فيصله نقض شوه؛ بېرته ابتدائيه محکمې ته ځي او پورته مراحل طی کيږي، که مرافعې فيصله اولاً يا ثانياً تائيد کړه؛ که يو جانب تميز طلبه شي، بيا تميز ته په نوموړې طريقه ځي، تر څو چې فيصله نهايي شي، که يو جانب تجديد نظر وغواړي او د تجديد نظر قابله وي، تجديد نظر کيږي، کنه فيصله قطعي او نهائي ده او تطبيقيږي، په دغه طريقه د خلکو شکايتونه رفع او حق حقدار ته سپارل کيږي.

دويمه پوښتنه: د درې ګونو محاکمو د اجراآتو او کړنو په اړه که راته ووایاست، چې د دغو محاکمو اجراآت څه ډول دي او د خلکو ستونزې يې تر کومه بريده هوارې کړې دي؟

ځواب: درې ګونو محاکمو د اسلامي امارت له فتحې څخه تر ۱۴۴۴هـ ق کال پورې (۲۲۷۰۲) دوسيې مکتوبي اجراء کړې، (۷۹۵۴۹) دوسيو ته رسېدنه شوې(حل او فصل شوې) او (۵۸۶۰۱) نورې تر کار لاندې دي. چې په دې سره د خلکو ستونزې تر ډېره حده حل شوې دي. همدارنګه د اسلامي امارت ټول محاکم په ورځني ډول خپلې چارې پرمخ وړي تر څو د اسلامي شريعت په تطبيق، پوره عدالت او امانتدارۍ د خلکو ستونزې حل او فصل کړي.

درېيمه پوښتنه: ستره محکمه د هېواد د ټولو ولایاتو له محاکمو او کړنو څخه څه ډول څارنه کوي او د اجراآتو پلټنه يې په کوم ډول کيږي؟

ځواب: ستره محکمه په داخلي تشکيل کې د تفتيش مستقل رياست لري، چې دا رياست يو عمومي رئيس او (۲۵) غړي لري او د ټول افغانستان د محاکمو د چارو د څارلو دنده پر غاړه لري، قضائي او اداري معلومات راټولوي، تر معلوماتو وروسته دوسيې، فيصلې، وثايق، عرايض او ټول جريانات ګوري.

ستره محکمه هر چاته د مشروع شکايت حق او چانس ورکوي، چې د وروستيو اجراآتو لپاره يې يو راپور د سترې محکمې عالي مقام ته او يو د سترې محکمې اداري معاونيت ته سپاري، هغوی بيا اجراآت ترسره کوي، ستونزې او مشکلات حلوي.

څلورمه پوښتنه: د ټولو محاکمو هغه که د ولایاتو دي او که د مرکزي محاکمو لپاره قاضيان څه ډول ګومارل کيږي، که د ګمارنې د پروسې په اړه يې معلومات راسره شريک کړئ؟

ځواب: د قضائي او اداري کارکوونکو د تقرر لپاره د سترې محکمې له خوا يوه کميټه جوړه شوې چې د قضائي او اداري ټاکنو وظيفه لري، د کارکوونکو استعداد، اهليت، ديانت او امانتدارۍ ته په کتلو له ازموينې وروسته د اداري معاونيت له لوري د تقرر لپاره عالي شورا ته وړاندې کيږي، د عالي شورا چې مشري يې د قاضي القضات صاحب حفظه الله پرغاړه ده؛ تر اتفاق وروسته بيا د مشرتابه عالي مقام ته پيشنهاد کيږي او محترم مشرتابه يې په اړه منظوري ورکوي. هغه خلک يا علماء چې ښه سابقه ونه لري هغه نه پيشنهاديږي.

پنځمه پوښتنه: د قبالو او وثايقو په اړه که له ليدونکو سره معلومات شريک کړئ، همدارنګه د نکاح خطونو د پروسې په اړه که لنډ معلومات راکړئ.

ځواب: د سترې محکمې په مشرۍ يوه پلاوي د قبالې شرعي او اصولي ترتيبات تکميل کړي او په۲۹ مادو کې يې يوه لايحه جوړه کړې، ياده لايحه د ۱۴۰۱ هـ ش کال د چنګاښ (سرطان) د مياشتې په شپږمه نېټه د کابينې له خوا تصويب شوې، د کابينې تر تصويب وروسته د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي رياست له خوا د متحدالمآل په شکل د هېواد ټولو محاکمو ته خبر ورکړل شوی چې قبالې د خپل طرزالعمل له مخې پر خاصو کاغذانو چې د وېش لړۍ به يې ډېر ژر پيل شي جوړې کړي.

نوی کاغذ او نوی ډيزاين چې نه خرابېدونکی او د جعل او تزوير مخنيوی پکښې شوی چاپيږي، دغه راز د تېر نظام نکاح خطونه چې پخوا چاپ شوي وو، خلکو ته ورکول کيږي او نوي نکاح خطونه تر چاپ لاندې دي چې په نوې طريقه او ډيزاين به يې ډېر ژر د تعميل لړۍ شروع شي.

شپږمه پوښتنه: د قاضيانو د ظرفيت يا استعداد لوړونې لپاره د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې کوم څه ترسره کړي؟ او که ترسره کړي يې نه وي؛ نو د راتلونکې لپاره ورته کوم پلان شته؟

ځواب: د سترې محکمې په تشکيل کې د قضائي تعليماتو يو رياست موجود دی چې فعلاً د هر ولايت قضائي کارکوونکو ته لنډمهاله سيمينارونه ورکوي او دا پروسه جريان لري، د اسلامي امارت لخوا يو دوه کلن تخصصي پروګرام چې تخصص فی الفقهه والقضاء لري د پخوا په شکل جاري دی او په اداري بخش کې هم د بشري سرچينو رياست لخوا اداري کارکوونکو ته روزنه ورکول کيږي.

اومه پوښتنه: ستره محکمه د عامه پوهاوي او له ولس يا ملت سره د خپلو اجراآتو او تګلارو د شريکولو لپاره کوم څه لري؟

ځواب: ستره محکمه د وياند يو مستقل دفتر لري او بل د بهرنيو، عامه اړيکو او مطبوعاتو رياست لري، چې دا دواړه خلکو ته د عامه پوهاوي، ذهنيت جوړولو او د محاکمو د فعاليتونو د رسولو مسؤوليت لري.

د بهرنيو، عامه اړيکو او مطبوعاتو رياست لخوا په چاپي برخه کې موږ د ميزان په نوم جريده لرو چې په هرو لسو ورځو کې يو ځل چاپيږي، دغه راز د قضاء په نوم مجله ده چې په هرو درېيو مياشتو کې يو ځل چاپيږي، په دې سربېره د سترې محکمې د رسمي ويب سايټ او ټولنيزو رسنيو له لارې مهمې معلوماتي او قضائي خپرونې هم لرو. دغه راز وياند له رسنيو سره په روزمره ډول د اطلاعاتو رسونې برخه کې همکار دی چې د سترې محکمې مهم ورځني موضوعات ورسره شريکوي او د اړتيا په صورت کې د رسنيو له استازو سره مرکې کوي او د مهمو موضوعاتو په اړه وضاحت ورکوي.

اتمه پوښتنه: د سترې محکمې د تشکيل او ساختار يا جوړښت په اړه مختصر معلومات راکړئ، يعنې اداري او قضائي بستونه مو څومره دي، او اوس مهال په ټول هېواد کې څومره کسان د سترې محکمې په چوکاټ کې په دندو بوخت دي؟

ځواب: د قضائيه ځواک د ۱۴۴۴ هـ ق کال د تشکيل او سيستم په اړه بايد داسې ووايم چې په ټوله کې ستره محکمه د ابتدائيه، مرافعه، تميز او نظامي محاکمو څخه تشکيل شوې ده، چې ټول اداري، قضائي، او خدماتي کارکوونکي يې (۵۴۳۵) تنه دي،له دې جملې څخه (۲۶۱۵) تنه قضائي، (۱۰۷۵) اداري او ( ۱۷۴۵) خدماتي کارکوونکي دي.

د سترې محکمې د ساختار يا جوړښت په اړه بايد داسې ووايم چې د سترې محکمې په رأس کې قاضي القضات صاحب دی چې هغه څلور مرستيالان لري.

د سترې محکمې معاونيتونه عبارت دي له: قضائي معاونيت، نظامي معاونيت، اداري معاونيت او د کندهار زون قضائي معاونيت.

همدارنګه ستره محکمه د اتو (۸) رياستونو چارې هم رهبري کوي چې عبارت دي له: ۱ـ د مرکزي تميزعالي رياست ۲ـ د مقام د دفتر عمومي رياست ۳ـ د مقام د تحريراتو رياست ۴ـ د دارالانشاء عمومي رياست ۵ـ د پلټنې او تفتيش عمومي رياست ۶ـ د تدقيق او مطالعاتو عمومي رياست ۷ـ د دارالافتاء عمومي رياست ۸ـ د قضائي تعليماتو عمومي رياست.

د سترې محکمې اداري معاونيت د پنځو رياستونو چارې پر مخ وړي: ۱ـ د بشري سرچينو عمومي رياست(د دغه رياست تر چتر لاندې د سوانحو او استخدام رياست او ظرفيت لوړونې رياست هم موجود دي) ۲ـ د مالي او اداري چارو عمومي رياست (د دغه رياست تر چتر لاندې د اداري چارو رياست او مالي او حسابي رياست هم موجود دي) ۳ـ د بهرنيو، عامه اړيکو او مطبوعاتو رياست ۴ـ د پلان او پاليسۍ رياست ۵ـ د دعوت او ارشاد رياست.

د سترې محکمې د نظامي محاکمو معاونيت اته (۸) نظامي محکمې لري، يعني په اتو قول اردوګانو او اتو زونونو کې نظامي محکمې شتون او وجود لري، چې دغه نظامي محکمې د ملي دفاع وزارت، د کورنيو چارو وزارت او استخباراتوعمومي رياست د منسوبينو دوسيې او موضوعات څېړي او تر تحقيق وروسته پرې فيصله کوي.

د کندهار زون د تميز معاونيت په لسو ولايتونو کې د خپلو اداري کارکوونکو نه علاوه پنځه عمومي دېوانونه هم لري، چې عبارت دي له: ۱ـ د جزاء دېوان عمومي رياست ۲ـ د مدني دېوان عمومي رياست ۳ـ د عامه امنيت دېوان عمومي رياست ۴ـ د تجارتي دېوان عمومي رياست ۵ـ د نظامي منسوبينو دېوان عمومي رياست.

د مرکزي تميز عمومي رياست هم له پنځو دېوانونو څخه جوړ دی کوم چې د کندهار زون معاونيت سره وړاندې ذکر شول.

نهمه پوښتنه: د اسلامي امارت له واکمنۍ وروسته که د محاکمو لاسته راوړنې راته ووایاست چې د افغانستان اسلامي امارت قضائيه قوه کومې لاسته راوړنې لري؟

ځواب: د اسلامي امارت له فتحې وروسته چې کله قضائيه قوې فعاليت پيل کړی ډېرې لاسته راوړنې لري چې زه يې په خلاصه ډول لاندې لاسته راوړنو ته اشاره کوم:

۱ـ د افغانستان اسلامي امارت سترې محکمې د هېواد په ټولو ولایاتو او ولسواليو کې محاکم فعال کړي او د دغو محاکمو ټول تشکيل يې تکميل کړی، حتی د نويو جوړو شويو ولسواليو لپاره تشکيل جوړ او منظور شوی دی، په داسې حال کې چې په تېر نظام کې يوازې په ښارونو کې محاکم فعال ؤ، چې د هېواد ډېريو ولسواليو کې محاکمو فعاليت نه درلود.

۲ـ په تېر نظام کې د محاکمو نه استقلاليت د هېوادوالو باور په محاکمو کم کړی ؤ، حتی بيخي يې له منځه وړی ؤ، د اسلامي امارت محاکمو دغه باور بېرته ترلاسه کړی او اوس مو هېوادوال په پوره اعتماد د عدالت ترلاسه کولو لپاره محاکمو ته رجوع کوي.

اوس د اسلامي امارت ټول محاکم استقلاليت لري او د وکيلانو، وزيرانو او خانانو تر فشار يا فرمايشونو لاندې ندي، پداسې حال کې چې په تېر نظام کې محاکم د وکيلانو، خانانو او نوروتر فشارو لاندې او استقلاليت يې ترې سلب کړی ؤ.

۳ـ همدا ډول د اسلامي امارت محاکمو په ځينو ولايتونو کې د سولې له لارې د هېوادوالو لويې شخړې او د کلونو کلونو جنجالونه حل کړي دي.

۴ـ همدا ډول درې ګونو محاکمو د اسلامي امارت له فتحې

پاتې برخه ٤

سرپرست مسوول مدیر: مولوي عبدالرحيم (راشد)
اديتور : جوادالله (جاهد)
ډيزاين: حميدالله (راسخ)

لاإله إلا الله محمد رسول الله

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محكمې دغه ځرګندويه خپرونه
په مياشت کې درې ځله چاپيږي

## له ملي ټلويزيون سره د سترې محکمې د فعالیتونو...

څخه تر ۱۴۴۴هـ ق کال پورې د (۲۲۷۰۲) دوسیو په اړه مکتوبي اجراآت کړي، (۷۹۵۴۹) دوسيو ته يې رسېدنه کړې (حل او فصل کړې يې دي) او (۵۸۶۰۱) نورې تر کار لاندې دي، په داسې حال کې چې د تېر نظام پر مهال دغه تعداد قضيو ته په دومره لږ وخت کې رسېدنه نه وه شوې.

۵ـ زما په اند د افغانستان اسلامي امارت تر واکمنۍ وروسته به د اسلامي امارت د محاکمو تر ټولو ستره لاسته راوړنه دا وي چې اوس اسلامي امارت په ټولو محاکمو کې فساد له منځه وړی او اوس په ټول هېواد کې حق حقدار ته رسيږي، زورواکي له منځه وړل شوې او شخصي غوښتنې نه اورېدل کيږي، د مظلوم او بې واسطو خلکو حق زوردارانو ته نه ورکول کيږي؛ همدارنګه ټولې پرېکړې د اسلامي شريعت او حنفي فقهې په رڼا کې کيږي.

۶ـ د حقوقو اداره چې وړاندې د عدليې وزارت سره متعلق وه؛ اوس له سترې محکمې سره مدغم شوه، چې وړاندې تر دې يې ځينې ستونزې راولاړې کړې وې، د بېلګې په توګه يې لاندې وظايف ذکر کوم: ۱ـ د قضائي بحثونو يا محاکمو شارنه ۲ـ په ځينو دوسيو کې د دوی حضور لازمي ؤ، چې د محاکمو په اجراآتو کې يو ډول مداخله او د هغوی استقلاليت يې تر سوال لاندې راوستلی و ۳ـ ځيني اجراآت لکه د مديونينو يا تجارتي يا ځينې وخت به يې جبري اصلاحات کول او ځينې ستونزې نورې هم وې؛ اوس دوی ته خپله لايحه جوړه شوې او د محاکمو تر هدايت لاندې به اجراآت کوي.

۷ـ همدارنګه سترې محکمې د هغو دوسيو لپاره چې د تېرې ادارې په وخت کې تطبيق شوې نه وي او اوس جانبين يا يو جانب ورباندې رضايت ونلري د څېړلو او پرېکړه کولو لپاره ولاياتو کې اختصاصي محکمې جوړې کړې دي که يادې دوسيې شرعي مشکل ونلري تائيدوي يې او که شرعي مشکل ولري بيايې جريان له سره پيلوي.

لسمه پوښتنه: په آخر کې مو ليدونکو ته خپل پيغام واوروئ، چې څه پيغام ورته لرئ.


ځواب: ټول ولس او هېوادوالو ته ډاډ ورکوم چې د اسلامي امارت له راتګ سره اوس په محاکمو کې حتی الامکان مستعد، امانتداره، او ديانتداره علماء او شيوخ کرام ګومارل شوي دي، چې حق به حقدار ته رسيږي او هېوادوالو ته به د خپل حق او عدالت تر لاسه کولو کې هېڅ د پام وړ ستونزه او مشکل نه وي ان شاءالله.

## په تېرو درېيو مياشتو کې درې ګونو محاکمو کې د هېوادوالو (۲۸۲۷۱) جلده دوسيې حل او فصل شوې، (۶۱۱۲) جلده دوسيې مکتوبي إجرا شوې دي

د افغانستان اسلامي امارت د قضائيه قوې اړوند درې ګونو محاکمو د تېرو درېيو مياشتو (۱۴۰۱ هـ ش کال د درېمې ربعې) په جريان کې د ښځو د حقونو اړوند (۲۸۶۸) بېلا بېلو دوسيو په ګډون (۲۸۲۷۱) دوسيې حل او فصل کړې او ۶۱۱۲ نورې يې مکتوبي اجراء کړې دي .

د يادو دوسيو له جملې څخه (۲۳۶۱۲) دوسيې په ابتدائيه محاکمو کې، (۴۰۱۴) دوسيې په مرافعه محاکمو کې او (۶۴۵) نورې دوسيې د سترې محکمې اړوند دېوانونو کې حل او فصل شوې دي.

درې ګونو محاکمو د ياد شمېر دوسيو پر حل او فصل سربېره په ياده موده کې په ټولو ولايتونو کې (۳۸۹۹۶) جلده وثيقې هم اجرا کړې دي.




## جلسهٔ اداری محکمهٔ مرافعهٔ ولایت تخار تدویر یافت

به تاریخ ۱۰/ ۱٤٤٤/٦هـ ق تحت ریاست محترم مولوی محمد صابر»حنفی» رئیس محکمهٔ مرافعه با اشتراک رؤسای دواوین استیناف و ابتدائیه، رئیس محکمهٔ شهری، آمریت وثایق و هیئت قضائی محکمهٔ مرافعه، محکمهٔ شهری و محاکم ولسوالی‌های فرخار، هزارسموچ، بهارک، بنگی و نمک آب و منسوبین اداری آمریت تحریرات غرض رفع چالش ها و بهبود اجراآت قضائی و اداری در صالون جلسات ریاست محکمهٔ مرافعه جلسه اداری محکمهٔ استیناف ولایت تخار برگزار شد.

ابتدأ جلسه با تلاوت آیاتی چندی از کلام الله مجید توسط محترم مولوی امان الله مفتی دیوان امنیت عامه شهری آغاز شد؛ سپس شیخ عبدالحمید «متوکل» رئیس محکمهٔ شهری تالقان در روشنائی احکام شریعت اسلامی پیرامون جایگاه و اهمیت وظیفه مقدس قضاء بحث نمود، در حصه تأمین عدالت، مبارزه جدی با رشوت و فساد اداری، رعایت نمودن نوبت به مراجعین در اجراآت تأکید ورزید افزود، به پاس مبارزه و فداکاری مجاهدین برحق راه اسلام جهت کسب رضای پرودگار عالم و حفظ و بقای نظام حاکم امارت اسلامی عدالت را تأمین و بدون در نظرداشت واسطه و فشار در جرایم مشهود قتل، سرقت وغیره جرایم مجرمین را طبق اصول شریعت محاکمه و مجازات نمائید.

متعاقباً رئیس محکمهٔ مرافعه ضمن خوش آمدید به حاضرین برگزاری همچون جلسات را غرض بهبود امور قضائی و اداری مهم و ارزشمند دانسته و راجع به موضوع جلسه صحبت همه جانبه نمود، علاوتاً روی موضوعات ذیل تأکید نمود:

۱ـ هر کس باید موقف خود را حفظ نموده و مسؤولیت وظیفوی خود را بداند.

۲ـ ترقی اداره توسط مسؤول اداره یعنی هر محکمه و هر دیوان یک مسؤول و یا رئیس دارد که مسؤولیت خود و عملکرد تیم کاری شان را بدوش دارد؛ باید مدیریت سالم و فعال داشته باشند.

۳ـ حسن اخلاق با مأمورین زیردستان و مراجعین داشته باشید.

٤ـ اطاعت از اوامر شرعی و اصولی آمر مافوق و بدون امر آمر خودسرانه اجراآت صورت نگیرد.

٥ـ عمل نمودن به فرامین عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله تعالی و متحدالمآل‌های ریاست عمومی دارالانشاء مقام عالی ستره محکمه در این مورد جداً توجه صورت گیرد.

٦ـ فیصله و قرارهای قضائی خویش را با دقت کامل وفق طرزالعمل و اصولنامه تحریر و صادر نمائید؛ تاحین رسیده‌گی در محاکم فوقانی مورد تائید قرار گیرد.

۷ـ حسن روابط و همآهنگی با ادارات ذیربط یعنی حین خواستن معلومات و یا ارائیه معلومات در وقت ضرورت با ادارات دیگر روابط حسنه داشته باشید.

در اخیر بعد از بحث و تبادل پیرامون موضوعات مطروحه از جانب اشتراک کننده‌گان جلسه تصامیم لازم اتخاذ و جلسه با دعائیه خیر و فلاح کشور و استقرار دایمی نظام امارت اسلامی خاتمه یافت.

## کندهار ولايت کې ۹ مجرمينو ته تعزيري سزا ورکړل شوه

په (١٤٤٤/٦/٢٤هـ ق) نېټه په کندهار ولايت کې د استيناف محکمې د جزاء دېوان لخوا په احمد شاهي لوبغالي کې ۹ مجرمينو ته د لواطت او غلا د جرم په وجه تعزيري سزا ورکړل شوه.

يادو مجرمينو ته د تعزيري سزا د ورکولو په مناسبت په جوړه شوې غونډه کې د استيناف محکمې رئيس مولوي محب الله، د استيناف محکمې د جزاء دېوان رئيس مفتي فضل الله (عاصم)، د استيناف او ښاري محاکمو د دېوانونو قضاتو، د کندهار مرستيال والي الحاج مولوي حيات الله (مبارک)، د کندهار امنيه قوماندان مولوي رحيم الله (محمود)، د امر بالمعروف مسؤولينو او عامو خلکو ګډون کړی و.

غونډه د قرآنکريم د څو مبارکو آياتونو په تلاوت پيل شوه، ورپسې د کندهار ولايت د استيناف محکمې د جزاء دېوان رئيس، د کندهار مرستيال والي، امنيه قوماندان او د امربالمعروف مسؤول يو په بل پسې د جلسې ګډونوالو ته خپلې ارزښتناکې ويناوې واورولې.

ياده غونډه مجرمينو ته د تعزيري سزا تر تطبيق وروسته د دعاء په ويلو سره پای ته ورسېده.

## باميان ولايت کې دوو مجرمينو ته تعزيري سزا ورکړل شوه

په (۱۴۴۴/۶/۲۸ هـ ق) نېټه د باميان ولايت د ښاري محکمې لخوا دوو مجرمينو ته د غلا د جرم په وجه تعزيري سزا ورکړل شوه.

د يادو دوو مجرمينو چې په جلا، جلا پېښو کې د غلا په جرم نيول شوي وو او له زور او جبر پرته يې په خپلو جرمونو اعتراف او اقرار درلود؛ دوسيې د ښاري ابتدائيه محکمې د جزاء دېوان لخوا څېړل شوې وې.

مجرمينو ته د تعزيري سزا د تطبيق په مناسبت جوړه شوې غونډه کې د باميان ولايت د محاکمو او نورو ولايتي ادارو پر مسؤولينو سربېره عامو خلکو هم ګډون درلود.

دغه ناستې ته چې د قرانکريم د مبارکو اياتونو په تلاوت پيل شوه، د ديني عالمانو او مسؤولينو لخوا اصلاحي بيانونه وشول، ورپسې د مجرمينو د دوسيو خلاصه بيان شوه او مجرمينو ته تعزيري سزا تطبيق شوه.

ناسته د دعاء په ويلو پای ته ورسېده.

میزان

د ليکوال پلاوي تر څارنې لاندې

پته : ستره محکمه، د بهرنيو، عامه اړيکو او مطبوعاتو رياست

publication@supremecourt.gov.af

www.supremecourt.gov.af

د ټليفون شمېرې: ۰۲۰۲۳۰۰۳۶۱
۰۲۰۲۳۰۲۲۶۳